**بسم الله الرحمن الرحيم**

## روژه او اختر د سپوږمۍ له ليدلو سره تړاو لري

**(ژباړه)**

**«عن عبد الله بن عمر رضى الله عنهما، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر رمضان فقال:"لا تصوموا حتى تروا الهلال، ولا تفطروا حتى تروه، فإن غم عليكم فاقدروا له»**

***ژباړه:*** *عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د رمضان يادونه وکړه او ويې فرمايل: "ترڅو مو چې سپوږمۍ نه وي ليدلې، روژه مه نيسئ او ترڅو چې سپوږمۍ وينئ، اختر مه کوئ؛ د مياشتې د پټېدو او نه معلومېدو په صورت کې د مياشتې اندازه دېرش ورځې ده.*

دغه حديث هغه حکم بيانوي چې د ځينو لپاره مبهم دی او هڅه کوي چې د شريعت حکم ته مراجعه وکړي او هغه حکم د رمضان مبارکې مياشتې له پيل او پای څخه عبارت دی. څرګنده خبره ده چې روژه د دغه لوی دين يو رکن دی او هغه عبادت دی چې يوازې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره بايد ترسره شي. په رښتيا چې الله سبحانه وتعالی د خپلو بنده‌ګانو لپاره هغه تګلاره غوره کړې، چې په مرسته يې بايد د الله سبحانه وتعالی عبادت وکړي او هغه سبحانه وتعالی ته نږدې شي. الله متعال په دې برخه کې موږ ته اجازه نه راکوي، چې د عبادت د ادا کولو په طريقه او وخت کې بدعت وکړو. يوازې الله سبحانه وتعالی د دې حق لري چې عبادتونه، د هغو طريقه او وخت موږ ته وټاکي او دا هغه حکم دی چې الله سبحانه وتعالی بيان کړی دی.

په دغه حديث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته خبر راکوي، چې روژه بايد له هغه سنت سره سم په ټاکلي وخت کې ونيسو، چې الله سبحانه وتعالی سپوږمۍ پيدا کړې او د هغې له بدلون سره مياشت هم بدلېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته خبر راکړی، چې د رمضان مياشت د سپوږمۍ په ليدلو سره پيلېږي او کله چې موږ سپوږمۍ ووينو، نو روژه پر موږ فرض کېږي او له دې پرته موږ حق نه لرو چې رمضان اعلان کړو! همدارنګه دغه حديث د رمضان مبارکې مياشت پای هم د شوال مياشتې له ليدلو سره سم ټاکلی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځانه خبرې نه کوي، بلکې هر څه چې وايي هغه د الله متعال له لوري وحيې ده. پر همدې اساس الله سبحانه وتعالی وحيې کړې، چې د روژې فرضيت يوازې د سپوږمۍ له ليدلو سره اړيکه لري، نه له بل شي سره او که له بل شي سره يې اړيکه درلودلی، له شک پرته چې الله متعال خپل پيغمبر ته

وحيې کول. مګر کله چې مسلمانان ونه توانېږي چې سپوږمۍ ووينې، نو بايد دېرش ورځې رمضان بشپړ کړي؛ لکه څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په حديث کې موږ ته بيان کړي دي. له همدې امله کله چې د سپوږمۍ ليدل ثابت شي، حتی يوه ورځ هم بيا روژې نيولو ته دوام نشو ورکولی.

يوازې له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې موږ ته توفيق راکړي، ترڅو دين په هغه ډول په پښو ودرو، چې دی پرې راضي کېږي او زموږ عملونه پخپل دربار کې قبول کړي، زموږ دين وساتي او موږ له مفسدينو څخه خوندي کړي! اللهم آمين!

**ليکوال: ماهر صالح**

**ژباړن: صهيب**